تتبع او ژباړه : احمد جان اتمر

# د'پست 'مدرن ښکيلاك تز او
# د آزادي او خپلواكي ناندري

يادونه :

دهيواد په انډول ، كه څه هم په فارسي ـ دري ژبه د ارزښت مند مطالبو په پرتله دلاطائلاتو وزن دروند دي ، په معلومو دلايلو په پشتو ژبه د هغه رازمطالبو حجم چه وكړاي شي دنني نسل ، په خاصه توگه دخوان نسل فكري اړتياوي مشبوع كړاي شي ډير كم او دفارسي- دري ژبي سره دحجم او محتوي له اړخه د پرتلي وړندي . نن ورځ په پشتو ژبه هرهغه څه چه لرو دهغو لويه برخه اغوا كونكي خبري او معلوماتي ماهيت لري او په كلكه د فصلي رسمي سياستونو خدمت كشي رول لوبوي .

دنورو عواملو په خنگ كشي ، په پشتو ژبه د تنويري مسايلو د نشتوالي له كبله پر ولس د بدمرغيو او ناخوالو د تپلو له اثره د بد اخلاقي او سقط ، او پدي الزام په ټولنه كشي دانحطاط ، لمنه دومره پلنه او پراخه شوي چه مثلا د **ايراني جنايكارو سياستمدارانو له لاسه د پښتون ولسمشر د چپن(جيلك)لاندي دبډي اخيستني افتضاح**[*] او يا دده د **تاجك** معاون شاغلي **فهيم هغه انفعال چه د خلور ميليونو دالرو په بدل كشي داسي لاس او پښي ورځخه ورك شول چه مارشال صيب نه پوهيده د امريكايي جنرال پښوو ته ژر پكول په خمكه ووهي يا خپل سر،** اويا تردو ډير پخوا ـ د نواز شريف په دربار كشي د نواز فرعوني دريدنه او ژست ـ ، زمونژ د تنظيمي اميرانو له منخه **ديوه له مدعا ډك امير()، زغاسته (منډه)، د نواز دلاسونو په لور او ملا كبړه ونه ، چه د گړنديتوب او چټكتيا له وجي دده د پښو په پايخو كشي دنښتلو او په سر لگيدو خطر په ويديو كشي بلقوه شكاري**[**] **هير** او د هغه پرخاي د دري او فارسي ، دانشگاه او

پوهنتون په مسخره لوبو د شخوند وهلو لړي نشليدونکي .
په داسي يو سياسي اجتماعي فرهنګي فضا کښي هريوه په خاصه توګه خوانانو ته ښايي او د دوو دنده ده چه په داسي فکري ذيرمو سمبال وي چه وکړاي شي دفريب او غولولو ژبه او هم کاذب او کذابيت ، ژر تر ژره وپيژني او د ړندو غوټو د پرانستلو په کار کښي مخکښ ګامونه واخلي . ددي ضرورت په پوهيدو زيار ويستل شوي چه د څو فارسي ژبومتفکرليکوالو*** د نوو کارنو له منځه هغه موضوع چه زمونږ د ورځني ژوند اساسي پوښتني او د ولس په ژوندانه کښي دحياتي اهميت لرونکي دي ، ژباړنه د اړتيا وړ او ضروري تبصرو سره يوځاي وړاندي کړاي شي .
دادي ددغو بحثونو له منځه د ښکيلاك او آزادي او استقلال بحث ته بيا کتنه .

(۱)

لکه زوړ او **نوي** ښکيلاك د **'پست 'مدرن ښکيلاك** د بنيادي اصولو ستني هم دسلطي او تيري او برلاسي پر بنسټ درول شوي . ددغه ښکيلاك تاريخ چه پر عراق دتيري سره غوټه خوري او **زوړ** او **نوي** ښکيلاك په ګډون دښکيلاك نور ډولونه هم په خپله لويه لمنه کښې ځايوي ؛ يو لړ ځانګړتياوي په لاندي ډول په ګوته کيژي:

- "دا ښکيلاك **نه** لکه زوړ ښکيلاك په نيغه د فرمان چلولو اوحکومت کولو پاليسي په نيول شوو هيوادونو کښي پلي کوي او هم **نه** لکه نوي ښکيلاك دايډيولوژي دليژدولو او د مخفي او نامحسوسو شبکو، له لاري د هيوادنو لوټول او د ولسونو په زيښناك لاس پوري کوي ؛ بلکه 'پست 'مدرن ښکيلاك ، دبشر دحقوقو څخه په ناروا ګټه اخيستو د بشردوستانه مرستو په پلمه ، ځانونه د دموکراسي د تصوير ترشا پټ او دهغه شتمن هيوادنوچه مستبدحاکميتونو لري، په زيبښلو ځانونه ړسوي" .[ **او کله هم ددي زيبښاك اوزيبيښلو په کار کښي "دبشرحقوق" هير ، او د دموکراسي پلمه او پوښش ته دغليظ استحمار په شته والي کښي اړتيا نه ويني ؛ د سعودي عربستان او د خليج د نورو شيخانو د واکمنيو نموني**].

- "پدغه ښکیلاک کښي، یو استبداي حاکمیت، د مدرن ښکیلاک دیوه ډله تنظیم شوي هیوادونو په مقابل کښي دریژي .دا ښکیلاك خپل مشروعیت په اصل کښي له دوه خایه تر لاسه کوي: یو په هیواد کښې حاکم استبداد او بل نړیوال عمومي افکار . ښکاري چه استبداد برسیره پر دي چه ټولني ته پراخ تاوانونه اړوي ؛ دنړیوالو قوتونو په لاس د خان دټکوني او نابودي اسباب هم برابروي ."

- " پست 'مدرن ښکیلاك اقتصادي او د'مگرافیك انگیزي لري . له اقتصادي نظره د په نښه شوو هیوادو دمالي ،صنعتي ، سوداگریزو بنسټونو او زیربنا ، دکورنیو جگړو له لاري ړنگول ، ویجاړول اوبیا ، د جنگ وروسته ، د بیا جوړوني په نوم ، د خپل هغه اقتصادي بحران یوه بر خه چه دیوي پیړي بیباکي له کبله طبیعت یي په بیدریغه توگه تخریب او هم د لویدیز او ختیز د ناښایست مدیریت له کبله ، ورسره مخ دي ؛ دهغو په پیسوسمبال اوترمیم کړي . دا ښکیلاك د د'موگرافي له نظره د دموکراسي دتبلیغ له لاري زیار باسي له یوي خوا خپلو هیوادونو ته د سیاسي اجتماعي اقتصادي مهاجرینو مخه ونیسي او له بلي خوا دهغو کارپوه انساني قوتونه جذب او ور څخه گټه اخلي . "

*[ په نادار افغانستان کښي دبیا جوړوني افتضاح ډېر خندونکي او خورونکي دي . ښکیلاك کله خپل puppet ښاغلي کرزي مالیخولیا اودي اودده تیم مفسد بولي ، کله د قاچاقچیانو او مختلسینو مشر، د خپل روزل شوي مافیایي لښکر په لاس د ده د پلار او ورور وژني سره جوخت دافغان جنگ خپلي ولس ډله ایز تباهي او دهیواد څخه دخپل جنگي ماشین د آزمایښتونو دډگرجوړول ؛ او کله بیا په استعماري وقاحت پداسي حال کښي چه یو ورخ دنوموړي کرزي له ستوني ددي تاریخي- ادبي ملي پیام دبي محتوا کولو په مقصد چه وایي :*

***"گر ندانی غیرت افغانیم   چون به میدان آمدي میدانیم"***

*غړ باسي ؛ په بله ورخ همدا په قدرت مین مالیخولیا ، دهغه چودریانو ننواتو ته اړباسي چه*

*دهغو دلنډ تاريخ اوږده برخه د انګريزي ښکيلاک ... ته اوبه اچول جوړوي . لنډه داچه افغانستان ته دبازساي اود بيا جوړوني کومکونه يعني هغه مالي مافيايي پروسه چه دپانګه والو هيوادونو دماليه ورکونکو دمالياتو يوه برخه افغانستان ته دکومکونو په نوم ، له کړکې ننويستل او له دروازي بهر ته ليږدول ؛ او په عين حال کښي خپلو بومي اجنټانو ته دهغو د اخلاص اوخدمت ګذاري له اړخه دمطمينيدو په مقياس له دغه مائدي ځخه د ګيډړو د ونډي بخنه ، نوميداشي ؛ د* ***آزادي او استقلال په راتلونکي سبا*** *چه د ښکيلاک او دهغو منطقوي پياده نظام، لکه پاکستاني او ايراني او سعودي رژيمونه ، دهيلو او محاسباتو خلاف ؛ دهغه کاروان دهيواد دآزاده ولس په همت اوديرغلګرو په مقابل کښي ددي ولس د ذاتي دافعي په اعتبار ؛ حتما رسيدونکي دي، افغان وګړې داستعماري دوران هيڅ يو تپل شوي قانون مقرره قراداد احکامو اجرا ته ملزم ندي . ځکه کله چه رژيم خپل مشروعيت نه له پرګنو ځخه بلکه له پردي حامي ځخه اخلي ، په حقوقي لحاظ دهغه ټول کړه وړه نامشروع الزام نمنونکي او د بيا کتني وړ بلل کيږي ].*

- " 'پست 'مدرن ښکيلاک د مالي سياستونو تر تاثير او د نړيوال پانګه والي تر فشالر لاندي په چټکتيا او ګړنديتوب عمل کوي . له اشتباه ځخه نه ويرژي ځکه چه ځان يي دخپلو جنايتونو دمينځلو او پاکولو په لازم ابزار تجهيز او سمبال کړي . کولاي شو په سمه ادعا وکړو چه 'پست 'مدرن ښکيلاک دجهاني کيدو دخشن او وحشي يرغل مکمل دي ."

*[ ددغه ابزارو له منځه هغه يو چه، په تيره بيا زمونږ په هيوادکښي دهغه وژونکي او ورانکوکي نقش ثابت شوي سمعي - بصري تبليغاتي وسايل دي چه دهغه انحصاردښکيلاک چپانو په خونړيو منګلو کشي دي . او بل تطميع او ارعاب او مصنوعي شخصيت جوړوني ؛ ددغه وسايلو د فعال ساتلو درانه لګښتونه له يوي خوا اودبل پلوه د نشراتو ستر حجم ته پاملرنه ددي حربې، د ورانونکي اثر د پيژندو سره مرسته کوي ].*

- "په 'پست 'مدرن ښکيلاک کښي دنړوال پانګه والي نظامي قوتونه تعينونکي رول لوبوي .

دلته بشردوست! سرتيري نورنو يواخي په نظامي فنونو برلاسي نلري . په حقيقت کښې ټول نظامي -تبليغاتي ابزاردده په لاس کښې دي . هغه دخبر عکس فلم د اخيستو او ټولولو متخصص هم دي . واقيعت دا چه دي په يولاس ټوپك او په بل لاس تبليغاتي دوربين د نړيوال عمومي افکارو ته هغه خوراك برابروي ، کوم چه دده دعمل مشروعيت يقيني کړي ."

- "په 'پست 'مدرن ښکيلاك کښې دنړيوال قدرت څخه بيل او مستقل دفيلم خبر او عکاسي کارکونکي دگزارشگري په ډګر دومره نقش نلري . حتي هغه شمير دسينمايي فيلمنو جوړونکي متعهد او منور کارکونکي چه تر څو کاله پخوا دسانسورنو په شتوالي کښې څه نا څه واقيعت ته نيژدي فلمونه جوړول ټول له صحنې وتلي . نړيوال نه يواځي دهغه ويتنام ړوله جنايتونو څخه چه هره ورځ دنړي په ګوټ ګوټ کښې تر سره کيژي بي خبرپاتي بلکه حتي لکه اسامه بن لادن غوندي يو شخص دقتل دواقيعت څخه بيخبر دي ."

(۲)

دښکيلاك دقدرت د نااندري پادزهر " آزادي او خپلواکي"

تر دي ځايه دښکيلاك د نوي او تکاملي مرحلي! دتز سره ، چه څيړونکي هغه 'پست 'مدرن ښکيلاك بولي، لمړني معرفت حاصل شو . اما دمعادلي بله خوا يعني خپلواکي .

له بده مرغه زمونژ هيواد افغانستان دښکيلاك سره دشخړو په وينو لړل شوي اوژد تاريخ لري . لمړي انګريزي ښکيلاك دا سيمه دخپلو خونړيو تيريو ډګر وګرځاوه او بيا روسانو او دهغو په څنګ کشي ، په يوه وخت يا همزمان ، دانګريزي - امريکايي مرکب ښکيلاك په استازيتوب چودري ښکيلاکچه .

له هغه ځايه چه دروسي بربنډ ښکيلاك پوشش يعني ايديولوژي زمونز د قوياً ديني ټولنه دمنلو وړ نه وه ، نو روسانو فقط يوه لاره درلوده چه هغه دقهر او خشونت بيدريغه مصرف وو . ښکاره ده چه قهر يازور (= نيرو يا توان ته دتخريب او ړنګولو لوري ورکونه) دواړه خواوي يعني تيري کونوني او دتيري موضوع ، ړنګوي . پدي دليل روسان دهغه شرمونکي

او رسوا ماتي سره مخ شول چه دهغه مستحق ول .  ژر تر ژره باید وواپو دا پدي معنا ندي چه روسي ښکیلاك په نورو توطئوو لاس نه پوري کول او سپماوي دهغو د ښه نیت نتیجه وه او ده . د انگریزانو د قومي نفاق زهري تخم ، داصلاح شوي تخم په بڼه کښي په روسي استعماري لابراتوارنو کښي د روزني کار تر سره ؛ دلا ډیر حاصل ورکوني په مقصد په پراخه توگه ترویج شول . اویا مثلا مزدور روزنه ، دروغ... بلکه دروسانو په استعماري نسخو او نقشو کښي (داسي چه پورتني کرښو کښي مووویل دهغو لویه پلمه -ایدیولوژي- د ټولني نه منل او جامعه ناپذیري په دلیل) دقهر مصرف دروند وزن دلود.

په بل اړخ کښي د امریکایي -انگریزي ښکیلاك( او ددو سنتي مزدور پاکستان او هم ایراني ـ سعودي ارتجاع )داستعماري لویي غوښتونکو نقشو په تحقق کښي زمونږ دخلکو ددیني عقایدوڅخه ناروا گټه وړنه ستره ونډه درلوده او لري. له هغه ځایه چه لازمه ده چه نه یواځي په عمل کښي بلکه په بحثونو کښي هم باید عمل اوسو نه عکس العمل ، خپل بحث له سره نیسو .

که څه هم خپلواکي ډیر لري زمانو یعني دپخوانیو لویو امپراتوریو **دتاریخ** په اوږد والي تاریخ لري چیري چه ددي امپراتوریو وگړي خپل آزادي او استقلال-دغلیم په مقابل کښي په انقیاد او عدم انقیاد تعریف ول ؛ دا مقوله د شپاړسمي پیړي په اروپا کښي د کلیسا څخه د دولت داستقلال په لړ کښي په کار یوړل شو . مگر دخپلواکي له مفهوم څخه د نني بشریت مراد او مفهوم بارزتیا ، چه په کلکه د ښکیلاك دتاریخ سره غوټه خوري د عطف شیبي په لنډه توگه داسي په ښه کولاي شو : لمړني خپلواکي غوشتونکي خوزښت په ۱۷۷۵م دانگلیسانو په ضد دامریکا دمتحده (دیارلسیزه)ایالتونو جنگ؛ په۱۸۱۰م داسپانیي ضد دمکزیك دخلکو پاسون ، ۱۸۳۸م دانگلیسانو او افغانانو لمړې جگړه ... ؛ په اروپا کښي دناپلیون دماتي وروسته دخپلواکي نهضتونه ؛ او بیا له دومي نړیوال جگړي وروسته آزادیبخونکي غورځنگونه کوم چه دهغه له کبله کڼ شمیرمستعمره هیوادونه خپلواکي ته ورسیدل .

اوس دخپلواکي یو دوه لغوي تعریفونه له نظره تیره وو . دعمید دفرهنگ مطابق

خپلواکي"**دیو کار په آزاد ډول کول**" ،" د چا دمداخلي پرته دخپل کار اداره کول" . په بله ژبه ، ددي تعریف له مخي پخپلو پخو دریدل او په خپل ځان اتکا . که د independance معنا خپلواکي ومنو په فرانسوي لغتنامه کښي خپلواکي داسي تعریف شوي : " **آزاد له هر ډول سلطي او وابستګي څخه**" . په دغه تعریفونو کښي کلیدي کلمي لکه آزادي او سلطه او وابستګي زمونږ اصلي بحث جوړوي . اما پخوا تر هغه دیو یا دوه توضیحاتو ارایه ضروري ګڼل کیږي . اوهغه داچه : لمړي داسي چه لیدل کیږي دتعریفونوله مخي هر هغه څوك یا هر هغه شي مستقل دي چه دبل چا یا بل شي له سلطي آزاد وي . دوهم د وابستګي کلمه دلته (دسلطي په حوزه کښي) مهم او تعینونکي ؛ او د حیاتي شرط لرونکي دي ، یعني دهغه څه چه ړومبي او وروستي خبره کوي حیثت لري . دا وابستګي د عادي اړیکو سره توپیر لري . ټول مخلوقات عادي روابط لري او له هغه پرته ژوند ناممکن دي . په همدي اړه ددي خبري د ویلو ځاي دي چه ددولت له استقلاله څخه معمولا سیاسي خپلواکي (دکلمي په عام معنا) مراد او په نظرکښي وي . البته دا پدي معنا ندي چه خپلواکي یواځي سیاسي دي او یا باید وي . بلکه ددولت دا(سیاسي) خپلواکي معنا دادي چه دولت په ټولو برخو اعم له اقتصادي مالي مالیاتي فرهنګي سیاسي قضایي دیپلوماتیکي ګمرکي ... خپلواك وي .

خپلواکي یو حقوقي اصل دي چه دوه بهرني او داخلي خواوي لري. له مستندونو له منځه دبشر دحقوقو دنړیوال اعلامیي چه ملګرو ملتونو د۱۹۴۸کال دسمبر په ۱۰ددغه سازمان دعمومي جلسي له خوا تصویب شوي یا دمثال په ډول دفرانسي په اساسي قانون کښي دهغه ځاي موندلاي شو او حتي لکه دعراق او افغانستان تر سلطي لاندي هیوادونو په اساسي قوانینو کښي سلطه ګران دهغه له صوري حذفولو څخه عاجز پاتي شوي .

دخپلواکي دلغوي تعریفونو برسیره ؛ نورمفهومي تعریفونه اوخاصي په لاندي ډول په ګوته کوو.مګرپخوا ترهرڅه باید ووایو چه آزادي آو استقلال، یودبل مکمل، خوګوني تعریفونه لري.

**" ـ که چیري د آزادي تر ټولو ساده تعریف ، د منفي(=عدمي) موازني داصل پر بنا یعني په لااکراه کښي ژوند کول په نظر کي ولرو ؛ نو بیا خپلواکي یعني دملي ټولني آزادي .**

**ـ خپلواکي يعني په کورني سياست کښي بهرنيان محور نګرځول.**

**ـ خپلواکي يعني هيڅ يو بهرني قدرت ديو هيواد دخلکو دحاکميت شريك ندي."**

دا اوس ، پداسي حال کښي چه زمونږ د هيواد خپلواکي د بهرنيو يرغلګرو له خوا، دنړيوالو ټولنو د تائيدد مهر په تر لاسه کولو او د هغه تر پوښ لاندي په بيدريغه توګه تر پښو لاندي شوي او هم په بل اړخ کښي وينو چه تر دو پخوا ؛ زمونږدخلکو آزادي او دهيواد خپلواکي دواړه د يوه نامقدس تباني دپردي تر شا ؛ په ګډه روسانو او په بهرنيو پوري تړل شوو مذهبي ډلو د څه ناڅه دوه ميليونه انسانانو په وينو لړلي . دلته دي چه دعدالت او ټولنيز عدالت او دموکراسي ورکه غوټه بايد ولټول شي او دآزادي او خپلواکي په رڼا کښي وسپړل شي . دا يو درنه مګر ممکنه دنده ده . درنه دنده ده او په دي علت دي چه دښکيلاك په لاس روزل شوي او دهغو په خدمت کښي، د ګڼ شمير رسمي کارپوهانو، سياستمدرانو، تحليګرانو، ژونالستانو، فقيانو ديني او بيدينه عالمانو او دوو ته نيژدي کسانو لويه پاده ، ښوي او لشم دهغه تر څنګه تيريژي تر څو په ترژمو کښي دخيټي اوتر خيټي لاندي تاميناتو موعود بهشت ته په چټکتيا خانونه ورسوي . او که رسيدلي وي هغه ابدي کړي .

ددي کژي کړنلاري او کوژ پوهي عامل هغه لارشود اصل دي چه قدرت(=اکراه) نوميژي.

" آزادي او استقلال يو له بله نه بيليدونکي دي . که د آزادي يو تعريف راواخلو چه وايي : انسان هغه وخت آزادي دي چه د ټاکلو اوانتخاب توان ولري . دا تعريف دخپلواکي سره څه اړيکه لري ؟ کله چه واياست انسان هغه وخت آزاد دي چه دانتخاب توان ولري؛ نو همدلته دا پوښتنه را منځ ته کيژي چه هغه وخت کوم وخت دي ؟ تاسو بايد دي اساسي پوښتني ته خواب ورکړي . لاغير ستاسو تعريف مصداق نومي. مجبورياست چه وواياست هغه وخت چه دتصميم دنيولو توان ولري .اويا دتصميم دنيولوحق ولري . که دا د تصميم دنيولو توان اوحق يي ندرلود طبيعتاً دانتخاب توان هم نلري . دا دتصميم توان يعني خپلواکي يا خودمختاري . " .

راځي يو ځل بيا دا ژوندي او حياتي مبحث ته د آزاده انسان دوستو متفکرينو دهلوخلو او

تلپاتي کارونو او لاربنونو په مرسته لږ څه ژور ور ننه وځو .

**" دآدمیانو عقل له مرزونو او سرحدونو اوپندونو څخه د تیریدو طبعي جواز لیك ، له هغه زوره څخه تشیدل یا د ځان تشونه ده چه په متعین هستي یا شته والي کښي یواځني محدودونکي دي .** [د اکراه د قاچاق پیټي باید لري وغورځوي تر څو له مستقیم صراطه په امان تیرشي] **. په بله ژبه انسان هغه وخت خپلواك دي چه دتصمیم په مقام کښي له هر محدودونکي څخه خلاص وي .** یعني دهغه په تصمیم نیولو کښي د قدرت(=زور) [ابلیس] حضور ونلري . **او بیا انسان هغه وخت آزاد دي چه دهغه دتصمیم په پول او ځرنګوالي کښي زور غایب وي .** پدي پول هر هغه څوك چه فکر کوي دي هغه وخت آزاد دي چه قدرت یا زور ولري او هر څه چه دده زړه غواړي وکړي او د توان او قدرت (=زور) له تمیز څخه عاجز وي هغه یو انسان نه آزاد دي اونه خپلواك . لدي کبله هر انسان باید دمحدودونکو اودهغو له منځه دلاندي محدودونکو ؛ څارونکي وي :

- له هغه ځایه چه نښه او هدف اوپته آزادي او خپلواکي ګرځي ، لدي کبله دوهم تاکتیك (کاربرد) اوستراتیژي(راهبرد) له دریو محدودونکو څخه خپلواك ګرځیدل نوموړای شو : **لمړي رژیم ، دوهم خارجي قدرت او دریم رژیم او خارجي قدرت پوري تړلي زورپرستان دا رازخپلواکي دانسان اوملي ټولني دآزادي لمنه نامتناهي او بیکران اوبیحده ګرځوي.**

- دریمه مهمه ستراتیژي او تاکتیك **<u>لاربنود اندیشه</u>**( لارښود اصل + تګلاره + هدف ) ده .

دا ځکه چه ، دلارښود اندیشي لرونکي ګمان کوي چه دفکر پول او باور او مرام ددي لپاره دي چه آدمي دبل سره په ضدیت کښي ځان تعریف کړي . دخپلواکي او آزادي دبیان یا ګفتمان یا ناندري یوه خاصه داده چه تضاد د سړي دپندار او ګفتار او کردار لارښود اصل نګرځوي . ددي راز اندیشي لرونکي ځان دزورپرستانو ضد نه تعریفوي **بلکه د ودي او رشد دسمي او مستقیمي لاري په غوره کولو دغي لاري ته دنورو بلونکي ګرځي.**

ددي لپاره چه لارښود اندیشه انسان په جګو حصارونو کښي زنداني نکړي، دسانسورنو سره مبارزه ضرور او تر هغه پیر مهم او ضروري **داندیشي د آزاد جریان تامینول** دي .

دلته خوانانو ته ددي مهم ټکي په وار وار يادونه **چه انسان خپل عزت دبل سره په ضديت دخان دتعريفولو له کبله له لاسه ورنکړي بايد دهغه لارشود انديشه آزادي او استقلال وي.** دا څکه چه دقدرت دبيان خاصه داده چه دهغه لرونکي اړ او مجبور وي چه دبل دفکر طرز سره په ضديت کشي خان تعريف کړي . **پدي ډول کله چه يو خوان داسي لارشود انديشه په سر کشي ولري چه دده او نورو ترمنځ سرحد اويا واټن راولي او يا دي ،دې ته اړ کړې چه خان دنورو سره په ضديت تعريف کړي ، هيڅ شك او ترديد بايد ونلري چه دده لارشود انديشه دا يا هغه دقدرت بيان دي** . پوښتنه داده چه دوي (خوانان) بايد خپل د فکر طرز او لاره بدله او دآزادي او استقلال بيان کوم چه خما وړانديز دي ومني ؟ خواب دادي ؛ **مستقله او مستقيمه تگلاره شتوالي لري . او هغه دخپلي لارشود انديشي نقد دي** . هريو بايد پدي پوه شي چه **دقدرت هربيان له تناقضونو ډك دي** . يواځي دنقد له لاري دا تناقضونه مرفوع او د آزادي او خپلواکي بيان ته درسيدو لاره شته .[ نقد او تجربه] .

**هر هغه وخت چه ټول له خپلو باورونو سره دا چلند ولري هغه وخت به دآزادي اوخپلواکي ناندري دانسانانو تر منځ سرحدونه ړنگ او د انديشو د آزاد جريان په يمن ، يو په بل نقد او يو له بله سره توحيد ومومي .**

څلورم ستراتيژي او تاکتيك ماضي دي . **په ماضي کشي تم اوښاتي کيدل يعني ړنگيدل .** پر ماضي سترگي پټول محال او ناممکن دي . کم تر کمه پدي دليل چه دانسان دهويت لويه برخه جوړوي . **دا خبره چه د ماضي په هکله خبري دي تاريخ پوهانو ته وسپارل شي هم لوي او ښکاره دروغ دي** . دا څکه چه هيڅ يو انسان نشي کولاي له ماضي پرته خپل حال او مستقبل ته سامان او تنظيم ورکړي . هر يو بايد پوه وي چه د کوم ماضي حاصل او يا معلول دي . دماضي انکار دخان غولول هم دي . [دلته وطني پيښې د بيلگي توگه په گوته کوو . د داود خان کودتا د ظاهر خان دموکراسي ته د پاي ټکي کيشود . دي ماضي ته نه پاملرنه سبب شو چه هماغه عوامل دکمونستانو په کودتا کشي دخل ومومي . او بيا همدا عوامل سبب شول چه دروسانو ترماتي وروسته دآزادي او او خپلواکي په لاره کشي خنډونه

لاپسي ډېر شي...].

پدي ترتيب خوان بايد هوشيار اوسي چه **دماضي په لومو كشي بند او تم نشي** . دهغه دنده ده چه ماضي بايد نقد كړي . دماضي نقد هرهغه وخت چه لارشود انديشه آزادي او خپلواكي وي ددي سبب گرځي چه :

**الف ـ ماضي لكه پانگه دحال اومستقبل په جوړولو كشي په كار ويوړل شي او**

**ب ـ دماضي د بياروغوني مخه ونيول شي او تاريخي استبداد ددايم لپاره محوه او دهغه خاي دخلكو حاكميت ته وسپارل شي . پدي ډول هغه عناصر چه داستبداد په جوړونه كشي د ونډې لرونكي دي [لكه حزبي(ح دخ ا) او تنظيمي (او ايراني ډوله بدمرغه آيت الله گانو لښكر) مافيا] هغه وخت كولاي شي په جنبشونو كشي ونډه واخلي چه نقد او په نقد شفاف كړل شوي وي . اوهم هيڅكله هغو ته دا وخت ورنه كړاي شي چه د استبداد په بيا روغوني كشي ونډه واخلي .**

پنځم ستراتيژي او تاكتيك هغه محدودونكي دي چه صورت نوميژي . په مرتب ډول دصوري منطق په هكله چه د چال او فريب تگلاره ده ژغزيژم او ليكم . په حقيقت كشي تر صورت بل غولونكي وسيله شتوالي نلري . هغه عقل چه دظاهر او صورت څخه فرمان وړې له خپل آزادي او خپلواكي څخه غافل اوبي خبره پاتي كيژي . هغه كسان چه صورت او ظاهر ويني او محتوا نه ويني اويا نه غواړي چه وه ويني په آساني د زورمدارانو او قدرت مدارانو د چل او فريب په لومو كشي نښلي .دوي هغه وخت په عقل راځي چه خبره له خبري تيروي .صورتونو د انقلاب څخه راپدي خوا په معينو مقاطعو كشي زمونژ خلك له محتوا څخه غافل كړي : برمته يا يرغمل نيونه[دامريكا سفارت]، دخپلواكي ضد عمل، ـ پدي دليل چه بهرني قدرت ته په داخلي چارو كشي ورځني رول وركاوه ـ ، استقلال پيژندونه.

**دشخص په حق د سنجولو ځاي ، حق په شخص چه خميني وو ونيوه** . او دخميني دشخصيت د دركولو ، مهم ، دهغه دصورت اوظاهر تصور اوتصوير ته راڼيټ كړاي شو .

[د سعودي ـ پاكستاني اسلام دژيري ، د ښځو حقوق... صورت فريبي پدي تله وتلي !] .

جنګ نعمت شو[دایران اوعراق جنګ] او دفقیه ولایت اسلام وګرځید . او ... "خما رأي خه شو" شعار وګرځید . او نن ورخ اورو او لولو چه" قضاوت د رأي صندقونو ته پریږدي" . **حال داچه رأي ورکول او پر دي بنا د رأي صندوق وسیله ده . که خان د وسیلي په چوکاټ کښي محدود کړي ، له محتوا څخه چه دخلکو ولایت(حاکمیت)حق دي ، غافل شوي یاست. په حقیقت کښي نشائي چه له وسیلي څخه پیل شي . با ید له حق څخه پیل کړاي شي .** هرکله چه دخلکو حاکمیت په پشو ودریږي او د هغه له اثره هریو په جمهوري کښي د رهبري دحق خاوند وګرځي - رهبري دانسان ذاتي او دتفویض وړ ندي - هغه وخت د رأي صندوق، د هر خانګړي وګړي ، دخپلواکي او آزادي برابر؛ او دهغو حاکمیت(ولایت) پر خپل خان اوخپل هیواد تنظیمیږي . له دغه محتوا څخه غافلیدل هغه بده بلا پر ایران راوستونکي دي ، کوم چه په لمړي رفراندم او وروسته بیا داساسي قانون په جوړونه کښي راوست . اوبیاوروسته کوم چه پر تونس اومصر نازل کړاي شو .[دغه صورت زمونږ په هیواد کښي ډیر معادلونه لري اما د تر ټولو خانګړي اغواکونکي صورت په حیث د جرګو بلنو ته ګوته نیولاي شو .] خوان باید په یاد ولري چه **دقدرت په منطق کښي** ،

**الف - تصمیم نیونکي قدرت ، انسان وسیله او هدف په قدرت اضافه کول دي .**

[ دقدرت دهغه خاصي مظهر چه په خان اضافه کول غواړي ، دوه مثاله . لمړي شاغلي خمیني دایران دانقلاب په درشل کښي وویل حاکمیت دخلکو دي ملا او فقي څارونکي دي . هغه وخت چه په قدرت کښي ذوب شو د فقیه حاکمیت او ولایت او زور او دروغ ... لړي دومره اوږده شوه چه دا خل یي وویل :" ټول ملت وواېي بلي زه وایم نه" .دوهم ـد خواروکي شاغلي کرزي پر چوکي دکښینولو لمړي شپي او ورخي په یاد کړي چه کله به په خندا شو کله به ژړا کله سترګك... او بیا دا اوسني سور او سپین کیدل او سپین سترګیتوب یي چه ټول ملت پاکستاني - عربي تروریستان دشمن ګڼي او زور وهلي شاغلي هغوي ورور .] .

**ب - د آزادي او خپلواکي په منطق کښي، تصمیم نیونکي مستقل او آزاد او حقوقمند انسان ؛ بنیادونه (له هغه منخه ټاکني یا انتخابات) وسیله ، او هدف په آزادي او استقلال**

**کشي ټولنيز عدالت ، په تله ، وده گرځي .**

**لهذا کله چه حقوقمند انسان تصميم نيونکي نه وي د ضرورت له مخي ، قدرت تصميم نيونکي گرځي . او د رأي صندوق هغه وسيله گرځي چه دقدرت دځپلي خوښئ اسباب او شئي ترې راويستل کيږي .**

شپږم ستراتژي او تاکتيك **اخلاق او معنويت** دي .

**د آزادي اوخپلواکي او دانسان نور حقوق ،دملي ټولني حقوق ، د نړيوالي ټولني حقوق ، دطبيعت او ژوو حقوق ترجمان اوژباړنکي اخلاق اوهغه معنويت چه دخلاص بي انتها او ناپيدا افق چه آدمي په هغه ورگړ او د هوشمند او خلاق هستي سره د اينهماني او يوشانته والي دموندلو له لاري سير اوصير وکړي . دداسي يو اخلاق نشتوالي ځاي په ځاي انسان د زور او زورمداري په ځولنو بند وي . د پندار او گفتار او کردار مدار تړي او زور اوريدنه او زور ويل دهغه ورځني کړنلاره گرځوي . پدي ډول د حقوقمداري او معنوي اخلاق لرونکي ، خلاق او فرهنگ او تهذيب جوړونکي گرځي** . او د معنويت او اخلاق خخه تش انسان د اخلاق ضد جوړونکي او ټولنيز ورانيو او ضررونو توليدونکي . **نني ځوان که وغواړي ځپل آزادي او ځپلواکي ترلاسه او د تهذيب او فرهنگ جوړونکي شي ، تر بل هروخت اوهرنسل اخلاق او معنويت ته اړتيا لري** . د دغه اخلاق او معنويت په مرسته دقدرتمدارانو د زورگويي زغمل بي غيرتي گڼي او توانيدي شي چه د ودي په حال کشي د خپلواك او آزادي ټولني جوړونکي او هيواد د آبادي او داد او عدالت په خونه بدله کړي .

اوم ستراتيژي او تاکتيك **بديل** دي .

له هغه درسونو چه د ايران د انقلاب [ او ددغه هيواد د۱۳۸۸کال جنبش] ، دتونس او مصر دجنبشونو څخه دزده کړي وړ دي ، په تيره بيا د آزادي او خپلواکي د ناندري شتوالي يا نشتوالي،د بديل شتوالي يا نشتوالي ، دي ، چه په شکاره د درس يوه عقلونو نظرته دريژي . که چيري بديل دننه په خلکو او يا له خلکو بهر جوړشي مگر هدف چه دخلکو حاکميت دي ، نه وي ، محدودونکي ، څه چه ، فلج ونکي گرځي . هماغه شانته چه د رژيم دننه بديل دجنبش

د ناکامي سبب وګرځید . ***خارجي قدرت پورې تړلي بدیل په جنبش کښې ډار او بې تفاوتي او فعل پذیري خپروي*** . که چیري یو لاسپوخي ډله جوړه او دبهرني تیري توجیه کونکي شي ، که حتي دهغو قصد لدې کاره ، هغه مشروعیت ترلاسه کول وي ، چه لاسپوخیتوب له هغو سلب کړي ، په ډېر ښه حالت کښې دعراق او افغانستان او لیبي تر رژیمونو بل ښه شي نشي جوړولاي . لدې کبله هغه خوان چه غواړي د آزاد او خپلواك ټولني معماري ته ملا وتړي ، **لازم دي چه دلاسپوخیتوب په هکله د خورا ډېر حساسیت لرونکي وي** . ځکه هر هغه بدیل چه په خلکو کښې د ډاډیني په عوض د ډار القا کونکي وي ، له ماتي پرته بل برخه لیك نشي لرلاي . ګرانه نده چه وپوهیږو کوم کسان او ډلي په خلکو کښې د ډار موجب ګرځي . بدیل باید له هغو ځخه خپله لاره بیله کړي ."

---

* کله چه ددي لیکني کار پاي ته نیژدي وو ، د ایران د سفیر بدماشي او ښاغلي کرزي له اوبو ډکي خولي نندارە را بسیره شوه. په همدي تله مارشال صیب او ګویا اپوزیسیون هم تللي شي !

** دغه ویدو د SBS د تلویزیون دنړي د خبرونو په خانګه کښې تشریف لري . مګر دهغه د **نه** ترلاس وني په علت ، چه ژورنالستیکو اړیکو مستلزم دي د امیر صیب دنوموني ځخه ډډه وشوه .

****ددي بحث مطالب ددریو فارسي ژب لیکوالو ـ فرهنګ قاسمي ، ابوالحسن بني صدر . ـددریم لیکوا ل نوم مي ونشو موندلاي . تا سو په خپل کرم دا یو ددي خبري په مصداق چه مه وایه چه چا وویلي ووایه چه ځه یي ویلي ، عجالتن ومني ـ دکارونو له منځه غوره کړ شوي .